مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید
۲۰۱۸/۰۳/۳۰

# سپي نور د زغم وړ نه دي...

(لنډه کيسه)

ډالۍ: ننيو ګلاب مخو شهيدو ژور نالستانو او قربانيانوته!



د ډيلی هوايي ډګر ته نوی ننوتی وم چې زموږ د فترد ملازمې زنګ راغی ، لږ سره تلولي شوم ، فکرمی وکاوه چې کواکي کومه ورقه رانه پاتې ده او يا کوم بل کاردی چې دا سې په بيړه راپسې وشرنګيده ، د موبل ټنۍ مې کيکښه چې له سلام نمستې، وروسته يې راته وويل:

د کور په شاوخوا کې مې سپي ډيرشوي، که زحمت نه و ، يوڅه زهرمر چې د سپيودحقونووال راباندې خبرنه شي له کابله درسره راوړه ، چې کله کله يې يوه يوه ته ورکوم ځو ځان او داخپله کوڅه ترې بې غمه کړم ...

زموږ ملازمه تراوسه درځلي دغو کوڅه ډبو سپو داړلې وه ، ځکه خويې د دښمنۍ لاره ورسره نيولې ، دي به تل راته ويل چې په هرځای کې سپي ډيرخوروړي وي ، هلته ښه زهر يا کوچوله هم پيداکېږي چې دغو هرجايي سپيو ته يې هسې په ډوډۍ او دالو ودړوې بس ځای پرځای يې پريباسي ،په تيره بيا د کابل هغه چې د کابليو سپيو لپاره کاريدلي وي... نو وا وا ...

ما هم ورته وويل چې سمه ده ، که مې ومونده نو خامخا به يې درته راوړم ... هو خامخا ... تورتوتان تريار قربان موبل مې په جيب کې کيښود او د خپل سفر په خيال کې شوم، په لاره کې مې پام شو چې د سپيو زهر په کابل کې له کومه شول، بيامې فکرته راغله چې کله موږ ماشومان وو او د چا سپي به ځوک وداړل ، نو سپي ته يې لومړۍ سزا همدغه زهر چې خلکو به کوچوله بلله داسې چې خاوند به يې نه خبريده په ډوډۍ او ياهم کومه ټوټه غوښه کې ورکړه چې ترستوني به يې نه وه رسيدلې چې بيا به يې کوړنجا پورته وه ... يوشمير خولا داهم کوله چې وړې ستنې به يې په ډوډۍ او غوښه کې ورته کيښودې چې وبه يې خوړې نو بياکله هم دپاتې نه و...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

زه کابل ته راورسیدم ، پرون د ماما زوی چې هغه هم پس له څو کالو له امریکې راغلی و راسره یوځای شو. هغه ته مې د خپل دفتر د نوکرۍ خبره وکړه را ته په خندا شو... ښه په کړیس کړیس یې راته وخندل... او راته ګډ شو...

هغه نه ده خبره چې کابل خپله په سپیو پکو شوې ، کابلي سپي اوس دومره چاغ شوي چې د کوچولې او زهرو زور هم نه پرې رسیږي ... دومره هوښیارشوي چې انسانان غولوي ... د کابل سپي اوس هغه سپي نه دي چې ډوډۍ به دې په هوا کې ورته واچوله دوی به ترمځکې پورې نه پرېښوده ... اوس ډوډۍ ښه ګوري ، ښه یې اړوي را اړوي بیایې خوري ... دوی اوس خپل خوراکي شیان پیژنې او پرې پوهیږي ... ځکه چې د دوی یوشمیرخوهم هغه دامریکایي پوځ بګیل شوي هغوی دي چې اوس یې د وژلو پرځای دکابل په کوڅوکې ایله کړي دي... ماناداچې لومړی روزل ، بیا بګیل شوي اواوس ...

د ماما د زوی خبره بې اساسه نه وه، پرون شپه چې کله موږ له نوی ښاره د کورپرلور را روان وو، د دغو سپیویو ډلی مو پرموټرحمله راوکړه ، شپه وه ، له موږ سره هم نه کومه لکړه وه او نه هم کومه تیږه ، دوی غپل او موږ په موټرکې ورته ناست وو ، زموږ ترموټر د دوی حرکت ډیرتیزو ، یوه خو یی له ډیره قهره زموږ د موټرمخې ته ځان را واچاوه ، موټروان آشناهم صرفه پرې ونه کړه او موټریې سم دم پرې ورتیرکړ، یوډریی شو اوپرمځکه لیټ ... زموږ یوه ملګري ددغه قهرجن سپي په مرګ وخندل او په اشاره کې یې ترخوله راووتل:

دا زموږ وطن دی ، دلته سپي دومره بې ارزښته دي چې ترڅو ژوندي وي ، غپایی اوریدل کیږي ، خو چې مړه شي ، په مرګ یې ډیرخلک آرامیږي ، او شکرانی پرې کوي ... سپي ورک ، مخ یې ورک ... هغه هم چې دنورو بل وویل: افسوس د دغو سپیو پرحال ، د دوی له حقو هم څوک لکه د خارجیانودسپیو په شان ننګه نه کوي ... ځکه چې دوی خپله جنایت کوي، تاوان رسوي او د سمو سپیو له ښیګړو یوه هم په کې نشته ... کله چې زموږ موټر چلونکي آشنا هغه قهریدلی سپي تر موټر لاندې کړ، نو په آرامۍ سره یې وویل:

زورکم قهربسیار ، دا د سزا ...

د ماما زوی لکه چې ما یې کیسې کړې په امریکا کې لوی شوی د سپیو دا شان مرګ ښه نه بولي او زړه یې پرې سوزي، دی وایی چې سپي هم حقونه لري ... په امریکا کې ډیرخلک د سپیو د دفاع په حق کې ولاړدي ،ځکه خو زه پوهیدم چې زموږ په موټرچلونکي آشنا په قهرشو:

ـ هرڅه چې و، په دغه توره شپه کې د دومره لویې سزا لایق نه و...

خو موټرچلونکي آشنا ورغبرګه کړه :

ـ ته نوی راغلی یې څومره ستونزې چې موږ د دغه سپیوله لاسه ګاللې دي ، پرهغو یوازې یو خدای ښه پوهیږي اوبس ...

زه هم په دغه چلند یوڅه سره نیولی شوم ، خو دومره نه لکه د ماما زوی ... ما ځان آرام ونیو چې د ماما د زوی بیا ترخوله راووتل ...

ـ که زما ښځې دا کارکړی وای ، په خدای چې اوس به دوختنه راځخه طلاقه وه ...

موټرچلونکي آشنا چې چالاکه سړی و او د ماما زوی یې پیژاند په ځواب کې ورغبرګه کړه :

ـ بی ښځې به دې څه کول ؟

ـ بله مې کوله ...

خو ما ځان آرام نیولی و، هیڅ مې هم ورته ونه ویل ، نه مې د ماما د زوی ننګه وکړه اونه هم دسپي ، ځکه چې ما هم سپي پیژندل او هم د ماما په امریکا کې پیداشوي زوی ... یوازې په دې سوچ کې وم چې دخپل دفتر د ملازمې د غوښتنې غم باید وخورم . ځکه چې هغه هم له سپیو ترستونې راغلې ، او هغې هم د سپیو د داړلو منډې ترړې اوغمونه لیدلې دي...

ورو مې له موټرچلونکي آشناڅخه پوښتنه وکړه چې د سپیو د مرګ لپاره څه چاره کولای شي، هغه وار دواره ځواب راکړ:

ـ یوازنۍ ښه سزایی همدغه ده لکه چې ما ورکړه ... دلته تر دغې ښه سزا بله نشته ، څومره سپي چې په تیرو دوو لسیزو کې دلته مړه شوې، د هغوي لپاره همدغه زما نسخه ټک پټري وه ... یوشمیرسپي خودلته په خپلو خاوندانو دومره ګران وو چې اوس یې په قبرونه جنډې هم ور درولې دي ،نا بلده سړی حیرانیږي چې دلته سپي ښخ دی که سړی ... له هغې ورځې چې دلته د سپیواو سړیوځای او توپیرورک شوي موږ په خپل وطن کې ښه ورځ نه ده لیدلي ... ښه ورځ ، آرامه ورځ ...

دماما زوی هیڅ هم نه ویل ، اونه یې سم ورته کتل ... په خپل موبایل کې اخته و ... اوځان یې هم هلته بوخت ساتلی و...

زما راتګ ته دوې ورځې پاتې وې چې د کابل په زړه کې په سلګونه خلک په یوه بم کې تبا ه او برباد شول ، موږ په هغه ورځ غوښتل چې د پغمان پرلور له ملګرو سره ولاړشو ، پغمان وګورو اوهلته د آزادۍ په دروازه کې دغلامۍ دا اوسنۍ ننداره هم وکړو ... موږ په همدغه تابیا کې وو چې تلویزیونو دکابل دننۍ غمیزې خبر په ژوندی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بڼه په یوه لړۍ کې ښود او ښود ... بد خبرو ، بدې وینې تویې شوې وې ، اوبدې چغې اوفریادونه خواره وو ... تصویرونویوازې هغه څه ښودل چې ارواوې یې دجنتود ټیکدارانو له ښونو سره ختلې وې ، مور تصویرونه ته کتل او ژړل ، دهیچا له خولې سوې هم نه خوت په مور ټولو کې یوازې دماما د زوی چې ماما به خپله دسپي زوی باله بي توپیره غږ پورته شو... دا به فلم وي ...
دیوه جسد لاس له تنه پرې شوی هلته لږ هغې خواته پروت و، تیاره یوه یوازې کمرې هلته لړې یوڅه لیدای شول ، له لیرې یوسپی را ښکاره شو، یو ډنګر د خدای په قهرککړ ناولی سپی، چې هغه پرې شوي لاس یې په خوله کې ونیو اوځان یې د سترګو په رپ کې له صحنې ویوست ... لږ یی هغې خوا ته نه و وړې چې نورو سپو پرې راودانګل او یو تورغوبل یې ورباندې جوړکړ، یوتورغوبل...
موټرچلونکي آشنا غږ راباندې وکړ:
- سپي دي ولیدل ... چي دلته یې څه حال جوړکړی ...
ما چي د اوچت ویلوپه نامه څه نه درلودل، دده ځواب مې یوازې دسرپه ښورولو سره ورکړ ....
ځکه یي مخ د ماما زوی ته ور واړاوه اوپه ټوګه کي یې ورته وویل:
- سپي لکه تا غرور نه لري ... ځکه خو یي ان په لویدیزکي هم ډیرخلک نه خوښوي ... او پرموږ یې ټپي ...
زه ورته موسکي شوم راته ځیرشو ، یاني مطلب یې داو زه ورته وواېم چې:
- نوڅه باید ورسره وشی ... ؟
ده پرته له سوچ او عاطفي درزوهل:
- سپي باید مړه شي ، هو، سپی هغه هم په کابل کې ، ځکه چي په دوی کي دلیونتوب یو اثر د پردیو میراث دی ... هو، د پردیو...
لا موانځورونو ته کتل ... انځورونو اوخبرونو ته ... آته تنه ځوان خبریالان په دغه پیښه کي ...
او شهید انځورونه په پرده ژوندي روان وو ... د مړو ... د شهیدانو ... د یوچا د ژړا غږ پورته شو ... شا ته مي وکتل چي زموږ موټر چلونکی آشناو ، هغه ژړل ، داسي چي موږ یې هم په ژړا کړو ، خوهغه همدا چغې وهلی :
- د سپیوزموږ پرهډوکو جنګ دي ... ترهغو چي سپي زموږ پرهډوکو اخته وي ... ترهغو به زموږ هم دغه حال وي .... سپي موږ خوري ، موږ وژني ... اوموږ ... شرموي...
سپي باید ووژل شي ... سپی نور د زغم اوتحمل نه دي...
او موږټولوله ده سره ددغه لوی غم ژړا یوازې په اوښکو بدرګه کړه ....
پای
د ۲۰۱۸ کال د اپریل ۳۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ